مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۶/۲۲

# غزل

## غم د خوښی دم رانه اخستی دی

بې روحه مخونو باندې زانګمه

ګرد یم تصویرونو باندې زانګمه



خوړ نظر د ننګ چې رانه پاتې شو

مست په ځنځیرونو باندې زانګمه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

غم د خوښی دم رانه اخستی دی

تـل سترو آهـونو باندې زانګمه

مرګ لکه لمبې زما په قام بلې

مرم په سرو اورونو باندې زانګمه

رنګ دې "پسرلېه" راته ونه ښود

تـال د خـزانونو بانـدې زانګمه

** * ** ** * **

** * **

یادونه:

**که چیری ګران لوستونکی و غواړی چی د دی شاعر نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!**